# د سایبري امنیت پېښه او د ایټالوي سره صلیب د ډاټا نقض: ټول امنیتي تدابیر نیول شوي

د ایټالیا سور صلیب په جنوري ۲۰۲۴ کې د یو سایبري برید قرباني و، چې په ځانګړې توګه ددغې اداري د کورنیو اړیکو د بیانښلوني ځانګې ډاټا یا معلومات پکښې په نښه شوې وه. هغه مهال د ډاټا یا معلوماتو د حذف، تعدیل یا بیرون ته د درز هیڅ شواهد نه و موندل شوي. خو د جون په پیل کې معلومه شوه، چې ډاټا یوې ډانلوډ انټرنټپاڼه کې خپره شوې ده. ډاټا د ۲۴ ساعتونو په دننه کې له پاڼې پاکه شوه. دغې پېښې د کورنیو اړیکو بیانښلوني ټوله شبکه اغېزمنه کړه او د فرانسوي سره صلیب لخوا له ایټالوي سره صلیب سره شریکه شوې ډاټا هم له بده مرغه متضرره شوه. د وګړو د مدني حالت، اړیکو او موقعیت اړوندو معلوماتو محرمیت له منځه تللی دی.

موږ نه پوهېږو، چې ددغې سرغړونې اصلي مرتکبین څوک دي او انګیزه یې څه ده. ایټالوي سره صلیب د خپل کمپیوټري سیسټم د امنیتي خوندیتوب لپاره ټول تدابیر نیولي دي. د فرانسوي سره صلیب معلوماتي سیسټم نه دی اغیزمن شوی او په عادي توګه کار کوي. نړیوال سور صلیب (ICRC) او ایټالوی سور صلیب له نژدې وضعیت څاري.

موږ له خلکو سره خپل چمتووالي ته دوام ورکوو، څو هغوی ته ټول لازم معلومات او ملاتړ ورکړو. زموږ د کورنیو اړیکو د بیانښلوني سرویس له خپلو عزیزانو د جلا شویو خلکو د اړتیاوو پوره کولو ته دوام ورکوي.

د سایبري پېښې متضررینو سره په انفرادي توګه د پیغام او/یا بریښنالیک له لارې اړیکه نیول کیږي. **که تاسې ته خبرتیا لیږل شوې**، چې ډاټا مو اغیزمنه شوې، نو **کولی شئ په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره د فرانسوي سره صلیب د کورنیو اړیکو بیانښلوني له سرویس سره پر لاندې لارو اړیکه ونیسئ:**

- بریښنالیک: recherches@croix-rouge.fr
- پر 01 44 43 12 60 له دوشنبې تر چهارشنبې د سهار له ۱۰ د غرمې تر ۱۲ او د ماپښین له ۲ د ماځیګر تر ۶ او د پنجشنبې ورځې د ماپښین له ۲ د ماښام تر ۶ اړیکه ونیسئ.

**د ډاټا خوندیتوب، تعدیلاتو یا پاکولو اړوند هرې پوښتنې لپاره کولی شئ** زموږ د شخصي معلوماتو خوندیتوب له مامور سره پر لاندې ادرس اړیکه ونیسئ: dpo@croix-rouge.fr یا هم په 98 rue Didot 75014 Paris کې د فرانسوي سره صلیب د ډاټا خوندیتوب مامور ته مراجعه وکړئ.

**که مشکوک بریښنالیک یا بل هر مشکوک تماس** (مشکوکه ټلیفوني اړیکه، د درغلیو اړیکه) تر لاسه کوئ، چې ستاسې څخه شخصي معلومات غواړي، نو مهمه ده چې ډیلیټ یې کړئ او هیڅ معلومات ورنکړئ.